**د افغانستان اسلامي امارت**
**د ریاست الوزرا لوړ مقام**
**د دفتر عمومي ریاست**
**د عامه او ستراتیژیکو اړیکو معاونیت**
**د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز**

# د کلني راپور فارمټ – فارمت راپور سالانه

| | |
|---|---|
| **د اداري بشپړ نوم (پښتو او دري)** | ټرانسپورټ او هوايي چلند **وزارت** ترانسپورټ و هوانوردی |
| **نېټه<br>تاریخ** | **۱۴۰۳/۰۶/۰۵ل** |
| **د لاسته راوړنو خلاصه (لنډیز) خلاصه دست آورد ها** | • کابل نړیوال هوايي ډګر کې د ۳سوه میلونو افغانیو په ارزښت د نوي معیاري درې پوړیز انتظار ځای د بنسټ ډبرې ایښودل.<br>• د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا د انساني همدردی له مخې د اړوندو ادارو په همکاری بدخشان ولایت کې د روسيې هبواد غورځېدلې ورې ((falcon-10ډوله الوتکې پیدا کول او د څلور تنو سپرلیو ژغورنې او درملنې وروسته په خوندي ډول خپل هبواد ته لیږل.<br>• په تېر یو کال کې د هبواد د هوايي ډګرونو څخه د ( ۱۲،۵۰۳) الوتنې تر سره شوېدي<br>• د افغانستان اسلامي امارت له بودیجې ۱۸ پروژې د هوايي چلند په برخه کې د پلي کېدو په حال کې دي چې د جوړېدو چارې يې ۹۰سلنه بشپړې شوې دي.<br>• خوست هوايي ډګر په نړیوال هوايي ډګر بدلول او په عملي ډول ترې د نړیوالو الوتنو پیلېدل.<br>• سږ کال د ملکي هوايي چلند انستیټیوټ څخه د ۱۱۲تنو مسلکي کسانو فارغېدل او په خپلو برخو کې پر دندو ګمارل او د ۱۵۰تنو نویو محصلینو جذبېدل.<br>• په یاد انستیټیوټ کې د (هوايي چلند ټرافیکو)او (هوايي چلند ټکنالوژی) ترڅنګ د اور وژنې، هوا پېژندنې، واټ ټرانسپورټ او د هوائي چلند مدیریت شپنی برخې نویو ډیپارټمنتونو زیاتول.<br>• د وزارت اړوند خالي بستونو کې د ازادي سیالۍ له لارې د کابو ۵۰۰ کسانو په دندو ګمارل.<br>• د کارکوونکو ظرفیت لوړونې په موخه په هبواد دننه او بهر کې د ۶۶ ښونیزو پروګرامونو برابرول او د ارتیا سره سم چین، عربي اماراتو او بحرین هبوادونو کې حضوري او پرلیکه یا آنلاین ډول د لنډمهاله زده کړو زمینه برابرول<br>• په تېر یو کال کې د افغانستان له فضا څخه د(۴۰،۰۱۶) څلوېښت زره او شپاړس عبوري الوتنو ترسره کېدل.<br>• د نړیوالو هوايي ډګرونو څخه د حج فریضې ادا کولو لپاره سعودي عربستان ته د (۳۰) زرو حاجیانو خوندي لېږد رالېږد. |

| | |
|---|---|
| | • د هوايي ډګرونو معياري کولو په موخه ولايتونو ته د اور وژنې تجهيزات او مسلکي کارکوونکو لېږدول.<br>• په لومړي ځل د هواپېژندنې رياست کې د D3ټکنالوژۍ په کارولو د هواپېژندنې اتومات سټېشن جوړول، نصب او همدارنګه په مرکز او ولاياتو کې د هواپېژندنې سټېشنونو ساتنه او څارنه.<br>• د اريانا افغان او کام اير هوايي شرکتونو ترځنګ (۸) هوايي شرکتونو نورمالو الوتنو ته د اسانتياوو او خدمتونو برابرول.<br>• د افغانستان او پاکستان هېوادونو تر منځ د TAD (لنډمهاله تګ راتګ سند) را منځته کول.<br>• د افغانستان اسلامي امارت له بوديجې څخه د واټ ټرانسپورټ په برخه کې د ۲۸ پروژو پلي کول<br>• ګاونډيو او د سيمې هېوادونو ته ۵۴۷ زره، ۰۳۸ افغان موټرو او افغانستان ته د ۴۳۴زره، ۷۰۹ بهرنيو موټر تګ راتګ<br>• افغانستان بندرونو ته د ۴۱زره، ۳۷۰ موټرو تګ راتګ ترسره کېدل.<br>• د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په مشرۍ له سپين بولدک او تورخم څخه د ۱۲۵زره ۷۰۲کډوال خپلو سيمو او مېنو ته په وړيا او خوندي ډول لېږدول او له کابل څخه نورو ولايتونو ته (۱۳،۳۶۹) ديارلس زره، درې سوه او نهه شپېته کډوالو لېږد.<br>• د يو کال په موده کې د ولايتونو تر منځ په بېلابېلو مسيرونو باندې ټولټال( ۴۲۱۸۹۵ ) بارونکو او (۳۷۲۲۲۸۳) مسافروړونکو موټرو تګ راتګ کړی دی.<br>• د واټ ټرانسپورټ اړوند معياري ټرانسپورټي شرکتونه رامنځته کول او جواز ورکول.<br>• په ترمينلونو کې د باروړونکو او مسافروړنکو موټرو د نوبت تنظيم په موخه موبايل اپليکيشن جوړ او د عوايدو برېښنايي کولو لپاره سيستم رامنځته کول.<br>• تېر کال کې د هېواد په بېلابېلو برخو کې (۷) واحد کاري مرکزونو ايجادول او له همدې لارې ۳۵زره، ۱۶۳موټر په ټرانسپورټي شرکتونو کې ثبتول.<br>• د مسافرينو او توکو د خونديتوب په موخه په مسافروړونکو او باروړونکو وسايطو کې د (جی پی اس) لسګونه وسيلې نصبول.<br>• د هېواد په ترمينلونو، هډو او بندرونو کې هره ورځ د موټرو تخنيکي چک ترسره کول او د تخنيکي ستونزې په صورت کې د موټرو فعاليتونه ځنډول.<br>• د کور او بهر جوړولو وزارت څخه د ټرانسپورټي ترمينلونو جوړولو په موخه د څه باندې درې نيم زره جريبه ځمکې انتقال او همدارنګه په کاپيسا او کندوز کې د واټ ټرانسپورټ ودانيو جوړولو لپاره د څه کم درې جريبه ځمکې پېرل. |
| **د لاسته راوړنو تفصيل**<br>**تفصيل دست آورد ها** | ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت خپلو عمده موخو ته د رسېدو په پار د هوايي او ځمکني ټرانسپورټ د سيستم مديرت، انسجام، سازماندهي، بيارغونه او څارنه شامله ده او د ښه، خوندي، د لاسرسي وړ له چاپيريال ساتنې سره موافق د خپل هېواد د پرمختګ او د اقتصادي ودې او د نړۍ او سيمې سره پر اتصال متمرکز خدمتونه وړاندې کوي.<br>په ۱۴۴۵ هـ ق کال کې د دغه وزارت مهمې لاسته راوړنې د ټرانسپورټي تاسيساتو، کارموندنې، ټرانسپورټي خونديتوب، د ټرانسپورټي خدمتونو ، هوايي چلند د پراختيا او د څارنې او کنټرول په برخو کې دي. |

| | |
|---|---|
| د ټرانسپورت او هوايي چلند وزارت په همکارۍ بدخشان ولایت کې د روسیې هېواد FALCON 10 الوتکې د عملیاتو کې همغږي او ژغورنه، چې له شپږو کسانو څخه څلور تنه پکې وژغورل شول او له درملنې وروسته بېرته خپل هېواد ته ولېږل شول.<br><br>د کابل نړیوال هوایي ډګر کې د ۳۰۰ میلیونو افغانیو په ارزښت د یوې درې پوړیزه ودانۍ په ۳۹۰۴ مربع متره ځمکه کې جوړېږي. په دې ودانۍ کې د مسافرو لپاره په نړیوال معیار انتظارځای، رستورانټ، میلمستون، روغتیایي کلینیک، د غونډو تالار او نورې ګڼې اسانتیاوې موجودې دي، چې د اتلسو میاشتو په موده کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.د اسلامي امارت په راتګ او د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په ځانګړې پاملرنه د خوست هوایي ډګر په نړیوال هوایي ډګر بدل شو، چې اوس مهال ترې په عملي ډول داخلي او نړیوالې الوتنې کېږي.<br><br>د کابل نړیوال هوايي ډګر څخه په تېر یو کال کې ۲،۹۳۷ کورنۍ او ۳،۹۹۷ نړیوالې الوتنې ترسره شوې دي، چې ټولټال یې ۶۹۲،۰۵۵ (شپږ سوه دوه نوي زره او پنځه پنځوس) کسان لېږدولي دي، چې په دې کې ۲۱۴،۰۹۵ (دوه لکه څوارلس زره او پنځه نوي) په کور د ننه او ۴۷۷،۹۶۰ (څلور لکه اوه‌اویازره نه‌سوه‌شپیته) مسافر بهر ته لېږدول شوي دي.<br>د ملکي هوائي چلند په انسټیټیوټ کې د (اطفائیې، هواپېژندنې، واټ ټرانسپورټ او همدارنګه د هوائي چلند مدیریت شپې برخه)د نوي ډیپارټمنټونو جوړ شوي او په یادو برخو کې (۱۵۰) تنو نوي محصلین جذب شوي او د دوی لپاره د دوه کلن معیاري نصاب طرحه ترتیب شوې ده.<br><br>د هوایي ترافیکو تنظیم(ATC) او د هوائي چلند تکنالوژي (CNS) له ډیپارټمنټونو څخه د (۱۱۲)کسانو فارغ شوي او ډېری په خپلو اړوندو برخو کې په دندو اګمارل شوي دي او اوس مهال په یاد انسټیټیوټ کې ټولټال ۱۸۸ محصلین په زده‌کړو بوخت دي.<br><br>د ۶۶ په شمېر مجموعي ښوونیز پروګرامونه د وزارت د کارکوونکو لپاره په مرکز او ولایاتو کې په مسلکي، تخنیکي، اداري، مدیریتي، انګلیسي او کمپیوټر په برخه کې جوړ شوي دي چې په ټولیز ډول پکې ۲۸۵۳ تنو ترې ګټه پورته کړې ده.<br><br>او په همدې توګه هېواد څخه بهر ۱۹ تنه د مسلکي زده‌کړو لپاره د چین هېواد ته لېږل شوي دي او ۲۳ تنو په انلاین بڼه د چین هېواد په ښوونیزو پروګرامونو کې برخه اخیستې ده. او ۶ تنه په حضوري ډول د متحده‌اماراتو او ۵تنه بحرین هېواد ته د لازمو زده کړو لپاره وریږندل شوي دي او همدارنګه د وزارت اړوند خالي بستونو کې د ازادې سیالۍ له لارې کابو ۵۰۰ کسان په دندو ګمارل شوي دي .<br><br>په تېر یو کال کې د افغانستان له فضا څخه د(۴۰،۰۱۶) څلوېښت زره او شپاړس عبوري الوتنې ترسره شوې دي، چې هره ورځ یې شمېر لسو الوتنو ته رسېږي.<br><br>د ( کابل، احمدشابابا، خواجه عبداله انصاري او مولانا جلال الدین محمد بلخي ) نړیوالو هوایي ډګرونو څخه د حج فریضې ادا کولو لپاره سعودي عربستان ته د څه باندې (۳۰) زرو حاجیان په خوندي توګه د تګ راتګ زمینه برابره شوې ده .<br><br>په هېواد کې د هوایي ډګرونو معیاري کولو | |

په موخه زیات شمېر هوایي ډګرونو ته د اور وژنې تجهیزات او مسلکي کارکوونکي د لاپراختیا او مصئونیت په پار استول شوي دي.

په لومړي ځل د هواپېژندنې ریاست کې د 3Dټکنالوژۍ په کارولو د هواپېژندنې د اتومات سټېشن جوړ او نصب شو او همدارنګه په 31 ولایاتو کې د هواپېژندنې د 52 سټېشنونو څخه ځانګړې پاملرنه ساتنه او څارنه کېږي

د اریانا افغان او کام ایر هوایي شرکتونو ترڅنګ ترکیش، العربیه ، فلای دوبۍ ، یزد، ایران‌ایر ،کیش، ماهان، تابان هوایي شرکتونو نورمالو الوتنو ته د اسانتیاوو او خدمدتونو د زمینې برابرول.
د افغانستان او پاکستان هېوادونو تر منځ د ) TADلنډمهاله تګ راتګ سند) را منځته شوی دی، یاد سند به په افغانستان کې په پلازمېنه کابل کې د پاکستان له سفارت او کندهار کې د پاکستان له قونسلګرۍ او په پېښور او کوېټه کې د افغان ټرانسپورټي اتېشې له خوا د ۱۰۰ امریکایي ډالرو په بدل کې ورکول کېږي. د دې سند په درلودلو سره بیا د موټرچلوونکي او کلینر ویزې ته اړتیا نه پېښېږي.
دافغانستان څخه ګاونډیو او د سیمې هېوادونو لکه ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان، ایران او پاکستان ته ۵۴۷ زره، ۰۳۸ افغان موټرو تګ راتګ کړی او افغانستان ته د ۴۳۴زره، ۷۰۹ بهرنیو موټر تګ را راتګ ترسره شوی او د افغانستان ټولو بندرونو ته ۴۱زره، ۳۷۰ موټرو تګ راتګ کړی دی.
د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت په مشرۍ له سپین بولدک څخه (۱۰،۹۸۵) لس زره نهه سوه پنځه اتیا کورنۍ چې (۷۰،۸۶۱) کسان او تورخم څخه(۱۰۰۷۲) کورنۍ چې( ۵۴۸۴۱) کسان چې ټولټال ۱۲۵زره ۷۰۲کډوال کېږي خپلو سیمو او مېنو ته په وړیا او خوندي ډول لېږدول شوي دي.
پخوانیو ټرانسپورټي شرکتونو د نوي طرزالعمل مطابق ځانونه په بیلابیلو برخو کې عیار کړي دي او همدارنګه نوي مراجعه کوونکو شرکتونو ته د ټرانسپورټي طرحې او طرزالعمل په رڼا کې (۱۸۵) شرکتونو ته اجازه لیکونه صادر او د فعالیت اجازه ورکړل شوې ده.
په تېر یو کال کې د (۷) واحد کاري مرکزونو ( (One Stop Shopد هیواد په مختلفو ولایتونو لکه (بغلان، فاریاب،کاپیسا، غور،غزني، کندز او نیمروز) کې ایجاد او عملاً یې پر فعالیت پیل کړی دی.
د مسافرینو او توکو د خوندیتوب په موخه په مسافروړونکو او باروړونکو وسایطو کی د (جی پی اس) لسګونه وسیلې، چې شمېر یې (۳۰۰۰) درو زرو ته رسېږي، نصب شوې او دا لړۍ له روانه ده.
د مسافرینو د خوندیتوب، د ترافیکی پیښو د مخنیوي په پار د کابل ښار په ولایاتي او اطرافی ترمینلونو او هډو کې د تخنیکي انجنیرانو له خوا د بېلابېلو() مسافروړونکو وسایطو تخنیکی وضعیت کنټرول شوی او () موټرو فعالیت ځنډول شوی دی.
د کور او ښار جوړولو وزارت څخه (۱۰۰۰) جریبه ځمکه په خاکجبار ولسوالی کی او (۶۷۹/۷۵) جریبه ځمکه په چهاراسیاب ولسوالی کې او (۲۰۰۰ ) جریبه د پغمان ولسوالی ارغندی ساحه کی چې ټولټال (۳۶۷۹/۷۵) جرېبه ځمکه کېږي د ترمینلونو د جوړولو لپاره انتقال شوی ده او په همدې توګه (۲۶۸۸/۸)متر مربع ځمکه کاپیسا ولایت د واټ ټرانسپورټ او (۱) جریب ځمکه د کندز ولایت د واټ ټرانسورټ اداري ودانۍ لپاره پېرل شوی ده.

| | |
|---|---|
| **راتلونکي پلانونه پلان های آینده** | ✓ په هېواد کې د هوايي چلند د چارو د تنظیم په موخه د هوايي چلند برخه کې د ستراتژیک پلان ترتیب، تهیه او نهايي کول.<br>✓ د نورو نړیوالو هوايي شرکتونو د الوتنو پیلولو لپاره دوامداره هڅه او کار کول، تر څو شمېر زیات شي.<br>✓ د خوست او کندهار نړیوالو هوایی ډګرونو سیستماتیکه پراختیا ورکول.<br>✓ د غزني هوايي ډګر د امکان سنجۍ د مطالعی په برخه کې همغږي.<br>✓ د عامه ښاري ټرانسپورټ د ماسټر پلان ترتیب او نهايي کول<br>✓ کابل ښار کې د ځانګړو ټرانسپورټي خطونو( مسیرونو) را منځته کول.<br>✓ د کابل په ټولو مسیرونو کې په شخصي موټرو محدودیت رامنځته کول.<br>✓ د رونډ نوبت،باروړنکو او مسافروړونکو موټرو د الکټرونیکي سیستم ( موبایل اپلکیشن) ته لاپراختیاورکول<br>✓ کارکوونکو ته په هېواد دننه او بهر که د ظرفیت لوړوني لپاره دښونیزو برنامو جوړول او معرفي کول.<br>✓ د هېواد په کچه د ځمکني ټرانسپورټ او هوايي چلند په برخه کې د غیر فعالو منابعو او سپینو جایدادونو تشخیص او فعالول.<br><br>والسلام |